**د کمپیوټر ساینس پوهنځي د ریس بیوګرافي**

کمپیوټر ساینس پوهنځي د افغانستان د لوړو زدکړو وزارت د قوانینو په چوکاټ کې خپل علمي او اکاډمیک فعالیت کوي، چې تر ټولو مهم او اساسي رسالت یې د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې په لوړ کیفیت، متوازنه او عادلانه توګه سره د علمي او مسلکي وړتیاوو لوړول بلل کیږي.

د زده کړو حاصلول یوه اسلامي وجیبه، یوه ملي اړتیا، په سیمه ییزه او نړیواله کچه د سیالۍ او سیال داری یوازینۍ لاره ده، نو د لوړو زده کړو په حاصلولو او ترلاسه کولو کې زموږ مسؤلیت فردي نه بلکې ټولنیز دی او د دې مسؤلیت د حق اداینې په پار باید پلرونه، میندې او د ټولنې هر وګړی خپل مسؤلیت په پوره امانتدارۍ سره اداکړي، ترڅو افغاني ټولنه د یو باثباته او سولییز پرمختګ لور ته سوق او وخوځیږي.

د یو سوکاله او په ځان بسیا افغانستان په هیله

پوهنیار سید رحیم نیکمل

دکمپیوټر ساینس پوهنځی رئیس